د ملګرو ملتونو د مرستی پلاوی په افغانستان کی

د ویاند دفتر
کابل – افغانستان

تیلیفون: ۶۱۲۱ ۲۹۷ ۲۰ ۰۰۹۳ – ۶۱۲۱ ۲۴ ۰۸۳۱ ۰۰۳۹
بریښنالیک: spokesperson-unama@un.org
ویب پاڼه: www.unama.unmissions.org

**رسنیز کنفرانس (کابو ټکی په ټکی)**

**شیګیرو اویاګی، د ملګرو ملتونو د تعلیمی، علمی او فرهنګی سازمان مشر په افغانستان کی،**

**ګوپال شرما، د ملګروملتونو د ماشومانو د پانګی مرستیال په افغانستان کی ،**

**داکتر نظیف الله سالارزی، د یوناما د استراتیژیکو اړیکو او ویاند د دفتر څخه**

*کابل- دوشنبه، د اپریل د میاشتی شلمه نیټه، کال ۲۰۰۹*

**یوناما:** د سلام او سهار په خیر د وړاندی کولو سره تاسو ټولو ته ښه راغلاست وایم. زه نظیف الله سالارزی د یوناما د استراتیژیکو اړیکو او د ویاند د دفتر څخه یم. زموږ درانه میلمانه دي هر یو ښاغلی شیګیری ایوګی د یونسکو مشر په افغانستان کی او ښاغلی ګوپال شرما د ملګرو ملتونو د ماشومانو د پانګی مرستیال په افغانستان کی چی په ګډه سره به دوي د تعلیم لپاره د عمل نړیواله اونی په افغانستان کی په لاره واچوي. وروسته به دوي ستاسو پوښتنو ته ځواب ووایی. کو چیری د یوناما او د ملګروملتونو د نورو ادارو په اړه کوم پوښتنه لری هیله کووم چی زما او زما د همکارانو سره پس له دی کنفرانسه اړیکه ټینګه کړي. بی له ځنډه اوس وار ورکوو ښاغلی اویاګی ته.

## شیګیرو اویاګی، د ملګرو ملتونو د تعلیمی، علمی او فرهنګی سازمان مشر په افغانستان کی

پوهنه د ټولو لپاره د نړیوال عمل اونی نن په افغانستان کی پیل کیږي د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او کلتوري سازمان (یونسکو) او د ملګرو ملتونو د ماشومانو صندوق (یونیسف) په افغانستان کې په ټولو اړوندو برخه والو باندي غږ کوي چي د سواد د وضعي د ښه کولو په لار کي د شته خنډونو د لیري کولو په غرض جدي ګامونه اوچت کړي.

خاصتا د هغو خلکو په منځ کي چي ګوښه توب یي تهدیدوي د ښځو، معیوبینو، د لږکیو د ګروپونو غړي او د هغو کسانو په ګډون چي له سختي نیستی سره مخامخ دي او د تعلیم د ټولو لپاره د حق څخه دفاع وکړي.

د هغو ستونزو رفع کول چي په افغانستان کي د بي سوادي د لوړي کچي له امله شته دی په دی هیواد کي د نیستی له محوه کولو، روغتیا ته د لاس رسي، با دوامه پرمختګ سره مرسته کوي او افغانانو ته د دی توان ورکوي چي په یوه سوله ییزه او آزاده ټولنه کي ژوند وکړي.

یونسکو او یونیسف په دي خوښ دي چي د دي کال د کار د اونی موضوع د ځوانانو او لویانو د لیک لوست زده کول ټاکل شوي ده، ځکه چي دي موضوع ته په هدفونو کي ډیره لږه پاملرنه شوي وه. په افغانستان کي دغه موضوع ډیر زیات اهمیت لري ځکه چي ۱۱ میلیونه افغانان چي عمرونه یي له ۱۵ څخه ټیټ دي سواد او د مهارتونو زده کړي ته اړ دي.

افغانستان په نړی کي یو له هغه هیوادونو څخه دی چي د سواد لرونکو شمیر یي ډیر لږ دی. د افغانستان لپاره د زریز پرمختایي مرامونو د راپوررونو له مخي چي په ۲۰۰۵ کي خپور شو څه نا څه ۳۴ په سلو کي خلک لیک او لوست کولای شي او په دي کي ۵۰ په سلو کي نارینه او ۱۸ په سلو کي ښځي دي. په لیري پرتو سیمو کي د اوسیدونکو په منځ کي چیرې چي په سلو کي ۷۴ خلک اوسي، دغه احصائیه نوره هم ښرونکي ده. په دي کي اټکل کیږي چي ۹۰ په سلو کي ښځي او ۶۳ په سلو کي سړی لیک او لوست نه شي کولاي.

سره د دي ویروونکو احصائیو، د سواد زده کړه او د غیر رسمي ښووني پروګرامونه د ښووني او روزني د ملي ستراتیژیک پلان دسر ټکی جوړوي. د توانمندي لپاره د یونسکو د لیک لوست نوښت د پروګرام په چوکاټ کي د ملګرو ملتونو څو ایجنسي ګاني له افغانستان سره د لیک لوست د زده کړي په برخه کي مرستي کوي. یونسکو او یونیسف دواړه همدا اوس مهال د افغانستان د پوهني له وزارت سره مرسته کوي چي د سواد د زده کړي غیر رسمي پروګرامونه تطبیق کړي.

په افغانستان کي د لیک لوست د زده کړي چټک پروګرام به چي د یونسکو له خوا په کار اچول شوی دی، په اتلسو ولایتونو کي شپږ سوه زره زده کوونکو ته د لیک لوست، له لوست څخه وروسته او نورو مهارتونو د زده کړي پروګرامونه تر ۲۰۱۳ څخه د مخکي برابر کړي. د دي پروګرامونو ګټه اخیستونکي به په سلو کي ۶۰ ښځي وي. د یونسکو د لیک لوست نوښت د ښځو لپاره د لیک لوست او توانمندي پروژې په ۳۴ ولایتونو کي فعالي دي او له دي اوس حالت څخه به د ښځو په منځ کي د لیک او لوست اندازه تر ۲۰۱۳ کال پوری په سلو کي ۲۰ زیاتوالی راولي.

## ګوپال شرما، د ملګرو ملتونو د ماشومانو د پانګې مرستيال په افغانستان کې

د دې لپاره چې د ليک لوست په برخه کې د لاس ته راغلو پرمختګونو حمايت وشي يونسکو او يونيسف دواړه له افغان حکومت او ټولنو څخه په ټينګه غوښتنه کوي چې د ښوونځيو، د سواد زده کړې د مرکزونو، د ساتنې لپاره خپلې ژمنې بيا له سره نوې کړي او له زده کوونکو او ښوونکو څخه حمايت وکړي او په جنګ کې د ښکېلو ټولو خواوو څخه غواړي چې د سواد د زده کړې مرکزونه او ښوونځي د عملياتي يا سيا سي هدفونو لپاره و نه کاروي.

يونسکو او يونيسف د حکومت له ټولو وزارتونو، مدني ټولني او محلي ټولنو څخه غوښتنه کوي چې له دې موقع څخه ګټه پورته کړي او د تعليم د ټولو لپاره په کاري اونی کې ګډون وکړی. او د تعليم د ټولو لپاره د يوه حق په څير د پروګرام او د ليک لوست د زده کړې د تقويې په موخه خپلې ژمنې بيا له سره نوې کړي.

### پوښتني او ځوابونه:

**راديو آزادی:** زما پوښتنه له يونسکو څخه ده. تاسي پوهيږئ چې ځيني افغانان يونسکو له دې امله ملامته ګڼي چې په افغانستان کې يې د تعليم سکتور ته ډيره پاملرنه نه ده کړې. لطفا توضيح کړئ چې په راتلونکي کې به تاسي کوم کارونه وکړئ څو په دې سکتور کې سمي راشي؟

**يونسکو:** په حقيقت کې يونسکو د تعليم په ډګر کې ډير کارونه کړي دي. موږ د افغانستان د معارف له وزارت سره ډيره نږدې همکاري درلوده چې ملي ستراتيژيک پلان طرح شي. دغه يو پنځه کلن ستراتيژيک پلان دی چې اته لومړيتوبونه لري. دغه پلان د افغانستان په ملي پرمختيايي ستراتيژۍ کې هم انعکاس موندلی دی. او دغه يو له هغو ډيرو مهم کارونو څخه دی چې موږ د تعليم د سکټور په برخه کې سرته رسولی دی. په دې برسيره موږ د معارف له وزارت سره همکاري کوو چې د لومړنيو او منځنيو ښوونځيو لپاره تعليمي نصاب طرح کړو. دغه راز موږ ښووني له وزارت سره د لومړنيو او منځنيو ښوونځيو په پرمختګ کې مرسته کړې ده.

په افغانستان کې تعليم په دې کلونو کې تر زياتې اندازې پورې پرمختګ کړی دی چې دا حقيقت د نړيوالې ټولني له خوا هم ستايل شوی دی. تعليم د ټولو لپاره د پروګرام په چوکات کې موږ د پوهني له وزارت سره يو ځای هڅه کوو چې د عمومي ښووني، د جنسيت په برخه کې د ښووني او دغه راز د ليک لوست په زده کړه او د غير رسمي ښووني په برخه کې کار وکړو دا کارونه همغږي کړو. دغه راز موږ د عملي لارښووني په درسونو کې چې موږ پيل کړی دي هڅه کوو چې په افغانستان کې د ليک لوست زده کړه پراختيا پيدا کړي چې دغه پروګرام د جاپان د حکومت له خوا تمويليږي. موږ هڅه کوو چې په راتلونکو پنځو کلونو کې د باسواده خلکو شمير په ۱۸ ولايتونو کې ۶۰ زره تنو ته ورسوو. دغه زموږ د همکاريو يوه بيلګه ده او موږ هڅې کوو چې خپلې همکارۍ نورې هم پراخې کړو او د ښووني په برخه کې د افغانستان پرمختګونه نورې نړۍ ته ور وپيژنو.

**بی بی سی:** يو له هغو ستونزو څخه په افغانستان کې په تيره بيا د معارف په برخه کې دا ده چې وګړي خپل ماشومان په تيره بيا نجونې دې ته نه پريږدي چې ښوونځيو ته ولاړې شي. آيا تاسو کومه ارزونه لرئ چې د هغې له مخې دغه ډول مفکوره په افغانستان کې بدلون ومومي؟

**يونسکو:** چې رښتيا ووايو دا ډيره ستونزمنه ده چې دغه ډول مفکوره په آسانی سره تبديله شي په تيره بيا په کليوالو سيمو کې، خو دواړه يونسکو او يونيسف هڅه کوي چې په کليو او ولسواليو کې د معارف په خپراوي کې د کليوالو په ونډه زيات تاکيد وکړي او دا ډيره مهمه ده، په تيره بيا د ليک لوست پروګرام او د ټولنو (کليو) په کچه پروګرام، موږ له يوې خوا د فرهنګ درناوي کوو خو د بلې خوا کوښښ کوو چې ټوله کورنی دې ته وهڅوو چې په ښه توګه معارف ته د يوې ډول پانګووني په نظر وګوري. دا چې موږ د يو شخص په ټولنې اود ټول هيواد په کچه پانګوونه کوو.

**سبا تلویزیون:** په جنوبي برخو کې ځيني ښوونکي له خپلو تنخوا سره ستونزې لري او دغه راز شاګردان په دې برخه کې د مسلکي ښوونکو له کمښت څخه ځوريږي، ایا دغه نوښتونه او اقدامات به دا ستونزې حل کړي؟

**یونسکو:** موږ پوهيږو چې د ښوونکو معاش د تعليم په ډګر کې يوه ډېره مهمه مسله ده. تير کال د پوهنې وزير اتمر د ښوونکو معاش زيات کړ او دې کار نارضايتي يو څه کمه کړه او څومره چې زه پوهيږم د پوهنې وزارت د معاش مسله تر ډير جدي غور لاندې نيولې ده. البته ښوونکي په تعليمي ډګر کې يو ډير مهم عنصر دی او يونسکو او يونيسف دواړه د پوهنې له وزارت سره دغه مسئاله مطرح کوي او له دې وزارت سره همکاري کوي چې څنګه موږ کولای شو خپلې تخنيکې مرستې په دې ساحه کې زياتې کړو، د ښوونکو سويې ارتقا پيدا کړي او د ښوونځيو په سامانونو او اسانتياوو کې زياتوالی راشي.

**آزاد خبريال:** زه غواړم چې که تاسو موږ ته د وروستني شموليت ارقام او همدارنګه چې د ښوونځيو د تړلو په اړه شميري راکړئ او دا چې څومره ماشومان هر کال ښوونځی پای ته رسوي د دی په اړه موږ ته شمير راکولای شئ؟

**یونیسف:** د ټولنې (کلی) په کچه ښوونځي چې د يونيسف له خوا ملاتړ کيږي ۳۴۴۶ ته رسيږي. د لومړنيو ښوونځيو د ښوونکو شمير ۱۱۴۵۶۹ دی. په ښځينه رسمي ښوونځيو کې دغه رقم ۴۱۰۲۵ تنه دي. د لومړنيو او ثانوي ښوونځيو د زده کوونکو شميره چې د معارف د وزارت څخه زموږ سره ده ۶۱۳۹۱۰۱ ده، د نجونو شميره په لومړنيو او ثانوي ښوونځيو کې ۲۱۹۱۰۴۶ ده، د لومړنيو ښوونځيو د زده کوونکو شميره ۴۷۸۴۴۷۲ ده او د لومړنی ښوونځي په کچه د نجونو شميره ۱۷۸۶۶۲۵ ده.

په ۲۰۰۸ کال کې په ۲۹۲ ښوونځيو بريدونه شوي چې په هغو کې ۹۲ تنه مړه او ۱۶۹ تنه ټپي شوي دي. په ۲۰۰۹ کال کې ټوله شميره چې د ښوونځيو د بريدونو ده تر اوسه ۲۹ ته رسيږي چې ۱۳ تنه په هغو کې مړه او ۱۴ تنه ټپي شوي دي.

**د امريکا غږ:** تاسي څه فکر کوئ حملې زياتيږي او که کميږي؟

**یونیسف:** لکه څنګه چې مخکې ووېل شول په ۲۰۰۹ کال کې تر اوسه ۲۹ حملې شوي دي. او په ۲۰۰۸ کې موږ په ښوونځيو باندې ۲۹۲ حملې ښوولې وې. داسې معلوميږي چې يو څه کمې په کې راغلې دی، خو موږ نه پوهيږو، ښايي کميږي.

**یونسکو:** که د وزارت شميرو ته وګورو په تير کال کې تر مارچ د مخه تقريبا ۲۹ حملې شوې وې او په دې کال کې هم دغه رقم تر مارچ د مخه پاتې شوې دی.

**ای ايف پی:** آيا تاسو د هغو ښوونځيو په اړه چې د ياغيتوب د پيښو له امله تړل شوی کومې شميرې لرئ؟

**یونیسف:** دا ښايي د ۷۰۰ په شاوخوا کې وي، خو موږ دقيقې شميرې په لاس کې نه لرو. حکومت د دې ښوونځيو د بيا پرانيستلو لپاره کار کوي او موږ د هغوی سره ددې ښوونځيو د بيا پرانيستلو لپاره له نږدې کار کوو.

**پژواک خبري آژانس:** آيا تاسو اوس مهال د هغو ماشومانو په هکله کوم چې د هيواد په نا امنه ولايتونو کې ښوونځيو ته نه شي تلای، کومې شميرې لرئ؟

**یونیسف:** موږ په دې اړه کومې دقيقې شميرې نه لرو، ځينې سرچيني دا شمير نږدې ۲۰۰،۰۰۰ ماشومان ښيي خو موږ دا ارقام نشو تاييدولای.

**یونسکو:** د دې ځواب سربيره، اوس مهال د معارف د وروستنی راپور پر اساس نږدې ۵۰ سلينه ښوونځيو ته تلونکي ماشومان ښوونځيو ته نه ځي. او دا په دې مانا ده چې موږ بايد هغه ۵۰ سلينه ماشومان چې بايد ښوونځيو ته ولاړ شي د هغوي د بيا تګ لپاره شرايط برابر کړو.

۲۰/۴/۲۰۰۹

**طلوع تلویزیون:** تاسو په ۱۸ ولایتونو کې د خپلو فعالیتونو د تمرکز په هکله خبرې وکړي، تاسو په هیواد کې د پاتې ولایتونو په هکله څه ویل غواړئ؟ په دې ولایتونو کې څومره ښوونځي فعال دي، تاسو نورو ولایتونو ته ولې پاملرنه نه کوئ، آیا د توجه نه کول خو به د نا امني له وجې نه وي؟ موږ په دغو ولایتونو کې د ښوونځیو ستونزو ته څنګه ځواب ویلای شو؟

**یونسکو:** د څه په اړه چې ما خبرې وکړي هغه د لیک لوست د ټولګیو په باره کې وی. هو موږ ۱۸ ولایتونه تر هدف لاندې نیولي. یونسکو د ښوونې او روزنې، یونیسف او همدارنګه د ملګرو ملتونو د اسکان د دفتر سره له نږدې کار کوي. موږ لا د مخه د همغږی د کاري ډلو په جوړولو پیل کړی، موږ به د دې چوکاټ په دننه کې په هیواد کې د ټولو ولایتونو ستونزو ته ځواب ووایو.

**د طلوع تلویزیون د پوښتنې دوام:** د هغو ۱۸ ولایتونو ترڅنګ چې ستاسو د پروګرام له اړه تر هدف لاندې نیول شوی، څومره نور ښوونځي په پاتې ولایتونو کې پرانیستل شوې دي؟

**یونسکو:** دا ۱۸ ولایتونه د لیک لوست د پروګرام په اساس تقسیم شوی دی. د لیک لوست د پروګرام لپاره معمولا د لیک لوست ټولګي چیرې چې خلک راغونډیږي کارول کیږي، کله نا کله بیا د دې موخې لپاره کورونه او بیا کله نا کله د ټولنو مرکزونه هم کارول کیږي. خو اکثرا د دې موخې د ترسره کولو لپاره ښوونځي نه کارول کیږي. موږ باید په کلیو کې د موجوده سرچینو څخه د دې کار د ترسره کولو لپاره زیات کار واخلو. ځینې کلي ښوونځي لري او موږ د دې ښوونځیو څخه کار اخلو خو ځینې کلی بیا هیڅ ښوونځي نه لري. اوس زه نه شم کولای تاسو ته د ښوونځیو د شمیر په اړه معلومات در کړم.

**د آزادي راډیو:** په دې وروستیو کې د ښوونې او روزنې وزارت اعلان کړی چې د هیواد په یو شمیر نا امنو سیمو کې یې یو شمیر ښوونځی پرانیستي دی، په دې هکله ستاسو ارزونه څه ده؟

**یونیسف:** د ښوونې او روزنې وزارت د دې ښوونځیو د بیا پرانیستلو د موخې د ترسره کولو لپاره د هغوي سره ډیر نږدې کار کوي. د ښوونځیو د بیا پرانیستلو په برخه کې د پام وړ پرمختګ ترسره شوی دی خو موږ دمګړۍ په دې اړه پوره معلومات نه لرو چې څومره ښوونځي بیا پرانیستل شوی دي، خو د ښوونې او روزنې د نوښت په اړه د پام وړ پرمختګ تر لاسه شوی دی.

**د باختر خبری آژانس:** داسې ویل شوي دي چې د یونیسف او یونسکو له خوا کومې مرستې برابرې شوې دي د هغو کیفیت ډیر ټیټ دی، هغه ولې خریداري شوي دي؟

**یونسکو:** زه نه شم کولای چې په دې اړه تاسو ته همدا اوس پوره ځواب در کړم، اوله هغه ځایه چې په کیفیت پورې تړاو لري که دا د زده کړې د موادو کیفیت وي نو موږ د دې د ښه والی لپاره د معارف د وزارت سره کار کوو، د زده کړې مواد او د ښوونځیو نصابونه په پایښت لرونکې توګه تر پام لاندې دي. موږ دې ته هم ګورو چې څنګه کولای شو د ټولنې د اړتیاوو سره سم وي دا چې د سواد او غیر رسمي زده کړو لپاره د ټولنې غوښتنې په پام کې راشي، چې دې ته د معارف د وزارت، یونیسف او یونسکو له خوا کلکه پاملرنه کیږي. په واقعیت کې تاسو ډیره مهمه پوښتنه مطرح کړله چې هغه د زده کړو کیفیت دی. زما په فکر دا د یوې ورځې کار نه دی او د یوې شپې په تیریدو نه ترسره کیږي. هغه څه چې اهمیت لري دا دی چې موږ به دغې مسالې ته په احتیاط سره توجه کوو او دا به د ټولنې په کچه د خلکو سره یو ځای کوو، د ولایت د حکومتي چارواکو سره په ګډه به یې ترسره کوو او په پایښت لرونکې ډول به د زده کړو کیفیت ښه کوو چې دې کې د معارف کیفیت، د ښوونکو او د زده کړې د مرکزونو د موادو کیفیت شامل دی.

مننه